اوونیزه
# معارف
هفته نامه

۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال

سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر آیندهٔ کشور است

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۳۶ ماه اسد سال ۱۳۹۷

## انګلستان له پوهنې وزارت سره ۸۰ میلیونه ډالره مرسته وکړه



په دې وروستیو کې په کابل کې د بریتانیا سفارت د "نجونو د زده کړې پروګرام" سره د ۸۰ میلیونه ډالرو مرستې اعلان وکړ. ددغې مرستې پر مټ به د هېواد په بېلابېلو برخو کې شاوخوا ۳۰۰ زره ماشومانو ته د زده کړو اسانتیاوې برابرې شي.

دا مرسته د یاد پروګرام د دویم پړاو د... ص۲

# د پوهنې سرپرست وزیر د یونسکو موسسې له لوړ پوړو چارواکو سره ولیدل



د پوهنې وزارت سرپرست ښاغلي ډاکټر محمد میرویس بلخي په افغانستان کې د یونسکو موسسې له رییسې مېرمن پتریشیا او د یادې موسسې د سیمه ییزو دفترونو د همغږۍ له رییس سره ولیدل او په اړوندو موضوعاتو یې خبرې اترې وکړې. ددې لیدنې په ترڅ کې د پوهنې سرپرست وزیر د افغانستان د معارف د ودې او پرمختګ په برخه کې د یادې موسسې مرستې او همکارۍ مهمې وبللې او له امله یې مننه او قدرداني وکړه.

ښاغلي بلخي د یونسکو له استازې څخه وغوښتل، چې د دولت له لوري د پوهنې وزارت د بودیجې په زیاتوالي کې له دوی سره همغږي شي او ټینګار یې وکړ، چې دا وزارت یو غیر سیاسي بنسټ دی او مهم پروګرامونه یې د وزارت تخصصي کول او د ښایسته سالارۍ اصل تحکیم دی.

وروسته مېرمن پتریشیا د خپلو خبرو په ترڅ کې د پوهنې وزارت لاسته راوړنې د پام وړ وبللې او په بېلابېلو برخو کې یې له دې وزارت سره د خپلې اداري پر مرستو او همکاریو ټینګار وکړ.

دغه راز نوموړې زیاته کړه، د ښوونیز نصاب اصلاح، د بې سوادۍ له منځه وړل او د لویانو لپاره د سواد زده کړو د اسانتیاو برابرول او د پوهنې وزارت د کارکوونکو د ظرفیتونو لوړول په افغانستان کې د یادې موسسې له مهمو پروګرامونو څخه یادیږي.

## آغاز کار بازسازی ۱۷ باب مکتب در ولایت زابل

وزارت معارف کار ترمیم و بازسازی ۱۷ باب مکتب را در شهر قلات مرکز ولایت زابل و ولسوالی های شهر صفا، شینکی و شاجوی این ولایت آغاز نمود که قرار است طی سه ماه کاری با هزینه ۴ ونیم میلیون افغانی به اتمام برسد. محترم رحمت الله یارمل سرپرست ولایت زابل از تلاش های ریاست معارف آن ولایت در جهت ساخت و ترمیم مکاتب یاد شده به قدردانی یادآور شده و به شفافیت در امور ساختمانی مکاتب مذکور تأکید نمودند. همچنان محترم نصرالله زاهد رئیس معارف ولایت زابل در رابطه گفت: «مطابق پلان مطروحه ۵ باب مکتب در شهر قلات، ۶ باب مکتب در ولسوالی شهر صفا ۵ باب مکتب در ولسوالی شاجوی و یک باب مکتب در



ولسوالی شینکی این ولایت ترمیم می شود. طبق گفته رئیس معارف سیستم آبرسانی، تشناب ها، دیوار احاطه و دیگر ملحقات ضروری شامل این باز سازی می باشند. قابل یاددهانیست که در محفل آغاز کار ترمیمات مکاتب محترم رحمت الله یارمل سرپرست ولایت زابل، رئیس و رهبری معارف، رئیس شورای ولایتی، محاسن سفیدان محل، معلمان و شماری از شاگردان اشتراک داشتند.

سرمقاله:

## برای امتحان نباید آموخت

روند معارف دنیا تقریباً به همین منوال به پیش میرود که بعد از گذشت زمان معین شاگردان باید آماده باشند تا ازطریق گذراندن یک آزمون آموخته های شان را به نمایش بگذارند. تا تفکیکی باشد در مورد اینکه درمدت چهارنیم ماه شاگردان به کدام درجهٔ آموزش دیده اند و در ضمن استادان هم خود را ارزیابی کرده از تدریس که انجام داده اند به کدام نتیجه مطلوب رسیده اند یا خیر و یا در شیوه تدریس خویش تغییرات بنیادی رونما نمایند حالا که چهار نیم ماه از آغاز دروس در مکاتب مناطق سرد سیر کشور سپری شده و امتحانات هم به پایان رسیده است شاگردان و استادان منتظر نتیجه نهایی آن هستند تا در پرتو آن هم شاگردان و هم استادان مسیر بعدی خود را تعیین نمایند، اگر نتایج مثبت بود ادامه راه و اگر قناعت بخش نبود یک راه و چاره دیگر که سبب بلند رفتن ظرفیت آموزشی خود، و نظام آموزشی کشور گردد اقدام خواهند کرد. بدون شک امتحان دادن و امتحان گرفتن وسیله موفقیت شاگردان و یا هم استادان نیست بلکه روشی است که به وسیله آن هم شاگرد و هم استاد ارزیابی گردیده تا پیامد های آنرا تخمین زده مسیر بعدی را انتخاب نمایند. ویا به شکل جامع تر اگر بگویم امتحان به حیث یکی ازوسایل پیمایش، سنجش وارزیابی فعالیت های درسی وآموزشی شاگردان شناخته شده وهم موثریت تطبیق پروگرام های درسی وفعالیت های معلمین را ارزشیابی مینماید. برای نیل به این هدف، معلم نیازمند شناخت ویژگی‌های بدنی، روانی، اجتماعی، عاطفی و همچنین توانایی‌های علمی، استعدادها و نارسایی‌های شاگردان خود است؛ زیرا هدف آموزش تنها انتقال معلومات و حقایق علمی نیست، بلکه برآوردن نیازهای همه جانبه شاگردان است، به طریقی که همه آنان بتوانند استعداد و توانایی‌های خود را از قوه به فعل درآورند. معلم در ارزشیابی... ص۲



## ملاقات سرپرست وزارت معارف با رئیس مؤسسهٔ NRC

ص۴



## د زرغونې انا اول نمبر لېسې څخه لسګونه زده کوونکي فارغې شوې

ص۴



## د کابل د پوهنې د وضعیت تحلیل او ارزونې کنفرانس جوړ شو

ص۴

## باز گشائی مجدد ۱۰۳ باب مکتب در ولایت لوگر

به تعداد ۱۰۳ باب مکتب که چندی قبل بنابر مشکلات امنیتی در مرکز و ولسوالی محمدآغه ولایت لوگر مسدود شده بودند، دوباره فعال گردید. مکاتب مذکور که با آغاز امتحانات چهارونیم ماهه مسدود گردیده بود، اخیراً به اثر تلاش های مسوولان ریاست معارف، مقام ولایت، شورای ولایتی، علمای کرام، بزرگان قومی و شخصیت های متنفذ دو باره گشایش یافتند.در مکاتب بازگشایی شده امتحانات چهارونیم ماهه آغاز و تا اخیر رخصتی های تابستانی ادامه خواهد داشت.رهبری وزارت معارف ضمن قدردانی از تلاش های مسوولان و مردم علم پرور ولایت لوگر اذعان میدارد که مکاتب و مدارس افغانستان مهد آموزش علم، توحید شناسی و خدا پرستی بوده و حفاظت و حراست از حریم معارف وظیفه هر هموطن ما می باشد.گفتنی است که از جمله ۱۰۳ باب مکاتب یاد شده ۶۳ باب آن در ولسوالی محمدآغه و بقیه در مرکز آن ولایت موقعیت دارد که جمعاً حدود ۴۹ هزار شاگرد اعم از دختر و پسر در این مکاتب مصروف آموزش می باشند.

## سرمقاله:

## برای امتحان نباید...

مستمر از فرایند آموزش موظف است که از یک طرف به رشد گروهی و پیشرفت همه افراد درصنف توجه کند و از طرف دیگر، متوجه کمبودهای آموزشی و نقایص پیشرفت تک‌تک فراگیران باشد و به کشف و برطرف کردن عواملی که سبب چنین کمبودیها و نقایصی شده است بپردازد.

استادان و شاگردان گرامی!

از گذشته باید آموخت هرآنچه که باعث کندی و مانع آموزش میشود باید از سر راه برداشت، آینده نگر باشیم کشور ما ازشرایط دشوار جنگی عبور میکند درچنین شرایط وظیفه شما جوانان است که تنها و تنها به ادامه تحصیل پرداخته از زمینه تحصیل که برای تان فراهم گردیده است بهره ببرید.چشم امید کشور و مردم بسوی شماست آینده کشور جنگ زدۀ ما بدست شماست راه پیشرفت،ترقی و تعالی کشور ما در آموختن علم است که شما فعلاً به آموختن آن کمر همت بسته اید. وزارت معارف هم به این امر متعهد است تا شرایط مصؤن تعلیمی را به شما مساعد ساخته تسهیلات و خدمات لازم آموزشی را به شمافراهم نماید. و از همه استادان گرامی میطلبد که در آموزش اولاد وطن از هیچ نوع سعی و کوشش دریغ نورزید به کوشش هایتان در جهت بلند بردن نظام آموزشی کشور با وزارت معارف همصدا شوید تا باشد در آینده نه چندان دور معارف کشور ما همردیف معارف کشور های جهان گردیده و سبب ترقی و تعالی کشور ما شود.

د لومړي مخ پاتې

## انگلستان له پوهنې...

تطبیق په موخه شوې، چې پر بنسټ به یې هڅه وشي په هېواد کې افغان نجونو ته د باکیفیته زده کړو زمینه برابره شي.

د نجونو د زده کړې پروګرام په دویم پړاو کې د امریکا متحده ایالتونو د پرمختیایي اداري (USAID) په مرسته هڅه کېږي، چې ۳۰۰ زره نجوني خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او دغه راز شاوخوا ۷۰ زره تنه نورو ماشومانو ته به د باکیفیته زده کړو اسانتیاوې برابرې شي.

د یاد پروګرام د لومړي پړاو د تطبیق لپاره نږدې ۷۳ میلیونه ډالر ځانګړي شوي و، چې له امله یې ۳۰۰ زره نجونو د لومړنیو زده کړو دوره بشپړه کړه، خو د یاد پروګرام په دویم پړاو کې به ددې ترڅنګ ۱۰۰۰ تنه ښوونکو ته هم روزنه ورکړل شي، چې په ترڅ کې به یې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې بې وزلو او د بې ځایه شویو کورنیو ماشومانو ته د سواد زده کړو اسانتیاوې

برابرې شي.

د پوهنې سرپرست وزیر ښاغلي ډاکټر محمد میرویس بلخي د افغانستان له معارف سره د نړیوالې ټولنې په ځانګړي ډول د بریتانیا له مرستې مننه وکړه او د هېواد ټولو ماشومانو په ځانګړي ډول له ښوونځیو لرې پاتې ماشومانو ته یې د ښوونیزو خدمتونو رسول د پوهنې وزارت له خورا مهمو لومړیتوبونو څخه وبلل.

په کابل کې د بریتانیا سفیر ښاغلي نیکولاس د خپلو خبرو په ترڅ کې د نجونو لپاره د یو عالي پروګرام د دویم پړاو د پیل له امله خوښي څرګنده کړه، کوم چې تر ټولو مهمه ځانګړنه یې د افغانستان د لرې پرتو سیمو د نجونو لپاره د باکیفیته زده کړو برابرول دي.

نوموړي زیاته کړه، نجونو ته د تحصیلي فرصتونو برابرول په اصل کې د افغانستان د راتلونکو استعدادونو له غوړېدو سره مرسته کوي او زه ویاړم، چې بریتانیا له پوهنې وزارت سره دې ګډې همکارۍ هوډ لري، چې ټولو افغانو نجونو ته د باکیفیته زده کړو اسانتیاوې برابرې کړي.

د یادولو وړ ده، چې د "نجونو د زده کړې پروګرام" تر ټولو لوی نړیوال وجهي صندوق دی، چې د ۵۰۰ میلیونه پونډه په پانګونې سره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له ۱،۵ میلیونه نجونو زده کوونکو سره مرسته کوي، چې باکیفیته زده کړو ته لاسرسی ومومي.

## پروان کې د نجونو یو ښوونځي ته د احاطې دېوال جوړېږي

د پروان ولایت د احمد علي خان شهید عالي لېسې د احاطې دېوال جوړولو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د ښوونځي زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدریسي چاپېریال برابر شي. هغه خوندي درسي چاپېریال د ښوونیز



یاد ولایت د پوهنې د رییس عبدالظهور حکیم او یو شمېر سیمه ییزو چارواکو په ګډون پیل شوې.

دغه پروژه په راتلونکو درېو کاري میاشتو کې بشپړېږي، چې څه باندې یو میلیون او ۲۲۳ زره افغانۍ لګښت به پرې راشي.

د پروان د پوهنې رییس عبدالظهور حکیم وویل، چې د احاطې دېوال د رغنیزو چارو له بشپړېدو سره به د یاد بهیر د کیفیت د لوړېدو لپاره ارزښتناک وباله څرګنده یې کړه چې په ښوونځي کې د نظم او دسپلین د ټینګښت لپاره د احاطې د دیوال شتون یو ضروری اصل دی.

د پوهنې رییس د احمد علي خان شهید د نجونو ښوونځي د مسوولینو او زده کوونکو ستونزې هم واورېدې او د حل په برخه کې یې د هر اخیزې مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه.

## مقر کې یو باب ترلی ښوونځی پرانیستل شول

د بادغیس ولایت د مقر ولسوالی د ترین لومړنی ښوونځی، چې له څه موده راهیسې د امنیتي ستونزو له امله ترلی و، بیرته د زده کوونکو پرمخ پرانېستل شو.

یاد ښوونځی د بادغیس د پوهنې ریاست، د سیمې د قومي مشرانو او ښوونځیو شوراګانو په هلو ځلو بېرته پرانېستل شوی دی. ددې ښوونځي له بیا پرانېستو سره د سیمې شاوخوا ۱۰۰ تنه زده کوونکو ته د بیا زده کړو اسانتیاوې برابرې شوي دي.

د بادغیس د پوهنې ریاست د یاد ښوونځي په بیا پرانېستو کې د ښوونځیو د اداري شوراګانو او د سیمې د قومي مشرانو د هلو ځلو ستاینه کوي او ډاډ ورکوي، چې اولادونو ته به یې د باکیفیته ښوونیزو خدمتونو د رسولو په برخه کې له هېڅ ډول هڅو دریغ ونکړي.

قومي مشرانو هم د پوهنې له ریاست سره په دې ولایت کې د ترلو ټولو ښوونځیو د بیا پرانیستلو او فعاله ساتلو په برخه کې د هر ډول مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې د یادې ولسوالی په ۴۸ بابه ښوونځیو کې ۹۲۶۶ تنه زده کوونکي، چې تدریسي بهیر یې د ۲۱۱ تنو ښوونکو لخوا پر مخ بیول کیږي؛ پر زده کړو بوخت دي.

## سنگ تهداب تعمیر یک باب مکتب در ولایت لغمان گذاشته شد

سنگ تهداب تعمیر لیسه ذکور علی خیل ولایت لغمان توسط محترم محمد آصف ننگ والی ولایت و عبدالله حمیدی رییس معارف آن ولایت در حالیکه تعدادی از مسوولین ادارات دولتی، متنفذین قومی، استادان و شاگردان حضور داشتند، گذاشته شد. تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی به مصرف مجموعی نزدیک به ۱،۱ میلیون افغانی از بودجه غیری مشروطه ولایتی در مدت ۱۰ ماه کاری اعمار می گردد، که دارای ۸ صنف درسی، اطاق های اداری با سایر ملحقات ضروری آن می باشد.

اتاق اداری، پنج باب تشناب، چاه آب آشامیدنی و ۱۲۰ باب میز و چوکی میباشد ازسوی سازمان ملل در امور مهاجرین به ارزش ۱۱ میلیون افغانی اعمار گردید است که با افتتاح آن برای حدود ۲۰۰ تن شاگرد ذکور و اناث ماحول مسوون تعلیمی آماده گردیده همچان سنگ تهداب دیوار احاطه مکتب ابتدائیه جعفرطیار مربوط مرکز ولایت لغمان توسط محترم محمد آصف ننگ والی ولایت و عبدالله حمیدی رئیس معارف آن ولایت درحالیکه مسوولین تعدادی از ادارات دولتی و مقامات محلی نیز حضور



داشتند، گذاشته شد. قرار است دیوار متذکره بصورت پخته واساسی با ۳۶۲ متر طول در مدت دونیم ماه به ارزش نزدیک به ۲،۷ میلیون افغانی به کمک مالی کمیته سویدن اعمار گردد. قابل یادآوری است که در مکتب یادشده به تعداد ۸۶۶ تن دختر وپسر در دو تایم و بصورت جداگانه مصروف آموزش هستند که با اعمار دیوار احاطه مذکور زمینه محیط سالم اموزشی فراهم میگردد.

قابل یاد آوری است که فعلاً در لیسه متذکره به تعداد ۲۶۶۶ تن شاگرد مصروف آموزش هستند که با اعمار تعمیر یادشده زمینه آموزش بهتر برای شان مهیا خواهد گردید. طبق یک خبر دیگر مکتب ابتداییه قلعه پاچا ولسوالی قرغه یی ولایت لغمان طی مراسم خاصی افتتاح و بهره برداری سپرده شد مکتب متذکره که در مساحت یک نیم جریب زمین اهدای اهالی بوده دارای شش صنف درسی دو

## تدویر ورکشاپ آموزشی برای مدیران معارف ولایت کاپیسا

برای مدیران وآمرین مکاتب ولایت کاپیسا ورکشاپ آموزشی دو روزه تحت عنوان تعدیلات وتزئیدات قانون کارمندان خدمات ملکی جمهوری اسلامی افغانستان در سالون کنفرانسهای ریاست معارف آن ولایت دایر گردید.

اشتراک دارند، که در رابطه به تعدیلات وتزئیدات قانون کارکنان خدمات ملکی دانستنی های ارزشمندی فرا خواهند گرفت. محترم عبدالعلیم عیار رئیس معارف کاپیسا و عبدالحبیب قدوسی آمر اصلاحات اداری و خدمات ملکی کاپیسا پیرامون



همکاری ریاست معارف وکمک مالی آمریت اصلاحات اداری وخدمات ملکی کاپیسا به راه انداخته شده بود به تعداد ۲۴۰ تن از مدیران و آمرین مکاتب مرکز و ولسوالیهای مربوطه این ولایت جانبه نموده و از مشمولین ورکشاپ خواستند تا امورکاری خویش را بر اساس هدایات قانون کارکنان خدمات ملکی افغانستان با در نظر داشت تعدیلات و تزئیدات جدید عیار نمایند.

# بقا

من ز چشم تو بقایی زنده گانی یافتم
از رُخت بر دل دوای جاودانی یافتم
ای سر و پاٌ تو لبریز است از شرم وحیا
من به لبخندت حیات و شادمانی یافتم
هر سخن کز لعل تو آیدبیرون بس دلکش است
از لب شیرین تو لعل عمانی یافتم
وصف تو گفتن فقط کاهی ایست از کوهی بتا
همنشین با تو شدم رمز جوانی یافتم
صد هزاران نکته دیدم بر خم زلفان تو
از خم وپیچ اش بساط نکته دانی یافتم
محوه نام نیک تو گشتم و لیکین عاقبت
معنی نامت شراب ارغوانی یافتم
من (حبیب)گر که کنم توصیف رخسار تورا
زانکه در کوه تو عمری پاسبانی یافتم

ارسالی: حمید

# سوله

محمد اکرم وفادار

سوله ټولو خلکو ته آکسیجن په شان اړینه ده
ښکلې کلمه ده کلماتو کې حسینه ده
سوله سوکالي ده ورورلی ده او ښایښت د ژوند
سوله آبادي ده چې فضا پرې ګل ورینه ده
ټولو ساه کسانو ته معنی د آکسیجن لری
تعبیرته حاجت نشته ځکه دا خبره سپینه ده
جوړ، صحت، صورت د لوی وړو ورته اړتیا لری
شپه او ورځ ،سهار،ما ښام او هر ساعت نیازبینه ده
سوله دي بچیانو ته پکار چې لاړ ښوونځي ته شي
هلته خادمان دي چې معلم دی لاریې مینه ده
سوله په فضا کې چې کفترې جګ پرواز وکړي
پاکه وي فضا د جنګ د دود نه هوا صافه عنبرینه ده
سوله کسب ګروته چې دوی دوستان د خدای بوله
دا د ژوند پایښت د پاره کارکړی لار د دینه ده
ورکاندئ لاسونه ورور ولی او انسانیت په نوم
ګرانو وطنوالو د هیواد مینه اړینه ده

رالیږونکی: فرهاد

# پلونه

دلته پلونه په ګردونو کې ورک شوي
کاروانونه سهارونو کې ورک شوي
دې حالاتو خلک داسې لیوني کړل
چې د وخت په ګردابونوکې ورک شوي
ویرې خپلې ریښې دومره ځغلولي
چې تنزري اوس په غرونو کې ورک شوي
ما دپلار نیکه کور کلي پیدا نکړ
د بارودو توپانونو کې ورک شوي
کلک عزمونه شړیدلي راته ښکاري
رغیدل یې په فکرونو کې ورک شوي
بورو میندو تورې خاورې په سر باد کړې
چې بچیان یې په جنګونو کې ورک شوي
لاسنیوی د هغه چا وکړه ( وارثه )
چې په سترو ارمانونو کې ورک شوي

رالیږونکی: وږمه

# فواید خربوزه

خربوزه دارای ویتامین Aاست، از این رو درترمیم و تجدید سلول های بدن نقش دارد.خربوزه با داشتن خاصیت ادرارآور بودن در بیماری های سنگ کلیه و مثانه مفید است؛ دراین بیماری ها باید نمک و فلفل کمتر خورده شود.خربوزه سرشار از ویتامین های A، Dو Cو سلولوز است.خربوزه برای اشخاص مبتلا به سل ریوی و کم خونی مفید است.بیماری استسقاء ( احساس تشنگی دائمی ) را درمان می نماید.خربوزه به هضم غذا کمک می کند خربوزه به واسطه آب زیاد، مواد قندی را فورا جذب خون کرده به همین سبب باعث بالا رفتن قند خون و رفع خستگی و گرمازدگی می‌گردد.در میان مواد قندی و معدنی خربوزه آنزیم‌هایی وجود دارد که سرعت هضم غذا را زیاد کرده بدین لحاظ در کودکان موجب افزایش اشتها و فعالیت و رشد سلول‌های بدن و در سالمندان به فعالیت سلول‌های دستگاه گوارش و در نهایت رفع سستی و بی‌حالی منجر می‌شود.سلول های مغز را تقویت می نماید.عضلات بدن را تقویت ، استخوان بندی را تکمیل و موجب رشد و نمو بدن می شود.معده و روده را پاک می نماید.اعصاب را آرام و تقویت می نماید.

**ارسالی: حسیبا سنگین**

# فواید کچالو

کچالو دارای مقدار زیادی ویتامین I ، B ، C ، نشایسته و مواد معدنی می باشد، ضد کم خونی است، به سبب دارا بودن ویتامین برای قلب مفید است، به علت داشتن فاسفر، تقویت کننده نیروی جنسی و مغز می باشد، به سبب داشتن مقدار زیادی مواد نشایسته ای، یک غذای نیروبخش می باشد،غشاء معده را اصلاح میکند و اسهال معمولی و اسهال خونی را درمان می نماید، در معالجه اسهال، ورم روده و التهاب دستگاه هاضمه از جوشانده کچالو استفاده نمایید، اگر خام آن را ریزه کرده و با روغن زیتون مخلوط کنید، برای معالجه بواسیر، مفید است، آب کچالو خام در انواع زخم های معده و اسهال کودکان شیرخواره، مفید است و نتایج بسیار خوبی هم از آن گرفته اند،جوشانده برگ و گل کچالو به مقدار ۳۰ گرام در یک لیتر آب، برای اشخاص مبتلا به اسهال و حملات عصبی مفید است،جوشانده آن مخلوط با دم کرده شیرین بیان، ادرارآور است و برای اشخاصی که به سنگ گرده و مثانه و بند آمدن ادرار مبتلا هستند، مفید است، اگر کچالو ریزه شده را به صورت مرهم بر روی سوختگی های سطحی بگذارید و این کار را دو ساعت به دو ساعت تکرار کنید، سوختگی به زودی خوب میشود، برای درمان ضربه خوردگی میتوان ۲۰۰ گرام کچالو پوست شده را پخته و پس از کوبیدن،در پارچه نازکی بریزید و وقتی گرمی آن معتدل شد، به صورت مرهم، روی عضو ضربه خورده بگذارید.

**ارسالی:فرشته**

# خواص درمانی کاهو

کاهو یک مسکن و آرام‌بخش طبیعی است و به‌خاطر اینکه دارای مقدار کمی از ماده شیمیایی لاکتوسین است، مصرف زیاد آن سبب سستی می‌شود.کاهو دارای آهن فراوان است و به عمل خون‌سازی بدن کمک می‌کند .به بانوان شیرده توصیه می‌شود که کاهو بخورند چون شیر را زیاد می‌کند .برای رفع سرفه و درد سینه کاهو را بپزید و بخورید .اگر شب‌ها از مشکل بی‌خوابی رنج می‌برید، پیش از خواب کاهو بخورید.اثر ضدتب، ضد روماتیزم و ضد خونریزی نیز دارد .کاهو به علت داشتن مقادیر زیاد سلولز، تخلیه امعاء را آسان می‌کند خاصیت خنک کننده دارد کاهو اشتها را تحریک می کند از عصاره کاهو برای محافظت و مرطوب کنندگی پوست در برابر حرارت خورشید و باد، در لوازم آرایشی استفاده می شود .تسکین دهنده دردهای قاعدگی و خون‌قاعدگی را زیاد می‌کند، بنابراین در این صورت در دوران ماهانه از خوردن کاهو خودداری کنید .کاهو از ریزش مو جلوگیری و مانع سفید شدن آن می‌شود.برای تقویت ریشه مو آب کاهو + آب زردک + آب یونجه مخلوط کرده میل شود .خوردن زیاد کاهو باعث فراموشی می‌شود .
کاهو زخم های مجاری ادرار و مثانه را درمان می کند.

**ارسالی: ذکی**

# گردید بهار

**گردید بهار و چمن است سبز بیا باز**
**چون فصل گُل از آمدن تو شود آغاز**
**در باغ همه مُنتظر آنکه تو آیی**
**بلبل به نوا آمده پروانه به پرواز**
**تا رنجه نمای قدم هرسو بخرامی**
**ایستاده به پا سرو که آیی تو به صد ناز**
**ای معجزه پاک خداوند تو از لُطف**
**باز آ به نگاهی بنمایم تو سرافراز**
**بادام لب و پسته دهان چشم چو آهو**
**بنهُفته به گُفتار تو گنجینه صد راز**
**برگیر صُراحی می و آی به گُلشن**
**آتش به دل زاهد بی پا و سر انداز**
**مانند تو در دهر یکی نیست دل انگیز**
**خوش مشرب وخوش سیرت ورزیده وممتاز**
**از بهرحبیب است خزان همچو بهاران**
**گر بامن آشفته شوی یار تو دمساز**

**ارسالی:جمشید**

# لویه خدایه!

ستا رضا زما رضا کې لویه خدایه!
را قبوله مي دوعاکې لویه خدایه!
دې وطن باندې د رحم باران وکړې
څه چې ستا وي هغه زما کې لویه خدایه!
چې شپه ورځ ورته په زړه کې ستا دیدار وي
ستا اشنا زما اشنا کې لویه خدایه!
چې په مینه محبت کې سره اوسي
نفاق ورک له دې دنیا کې لویه خدایه!
زموږ پر زړونو باندې توري تیارکۍ دي
زموږ زړونه ته رڼا کې لویه خدایه!
چې له چا سره یې مینه حقیقي ده
ته یې خپل سره پخلا کې لویه خدایه!
علیزي کچکول نیولی ستا دربار ته
بس ده پوره یې مدعا کې لویه خدایه!

رالیږونکی: حشمت خان

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 236, Month – July- August 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

## د کابل د پوهنې د وضعیت تحلیل او ...

بقیه صفحه اول

د کابل ولایت د پوهنې د ارزونې او تحلیل په اړه د خبرو او بحث په اړه لومړنی کنفرانس د حکومت د رسنیو په مرکز کې جوړ شو. دا کنفرانس د کابل ولایت د مقام په ابتکار جوړ شوی و، چې په کې د پوهنې سرپرست وزیر ډاکټر محمد میرویس بلخي، د سواد زده کړې معین ډاکټر سردار محمد رحیمي او ګڼو نورو چارواکو او د کابل والي برخه اخیستې وه.

کنفرانس ته د کابل لسګونه ښوونکي هم بلل شوي و، چې خپلې ستونزې او وړاندیزونه یې مخامخ د پوهنې وزارت له مشرتابه سره شریک کړل.

د کابل والي محمد یعقوب حیدري وویل، دکابل اوسیدونکي ژمن دي، چې د پوهنې د ودې او پرمختګ په برخه کې هڅې وکړي او په مالي او معنوي لحاظ د معارف ملا وتړي. هغه وویل، چې له پوهنې د ملاتړ کال په مناسبت یې شاوخوا ۱۵ میلیونه افغانۍ ټولې کړي، چې ددې ولایت د ښوونځیو په جوړونه او تجهیز به مصرف شي.

هغه د کابل له سیمه ییزې حکومتولۍ، عامو خلکو او خیریه بنسټونو څخه وغوښتل، چې د ښوونځیو په جوړولو، ښوونځیو ته د ماشومانو په جذب او د ښوونځیو د اغېزې په ډېرولو کې مرسته او همکاري وکړي.

د کابل والي د پوهنې وزارت ته وړاندیز وکړ، چې په دې ولایت کې د څه باندې ۲۰۰ ښوونځیو ودانۍ جوړې، مسلکي ښوونکي استخدام، درسي کتابونه چاپ او ښوونځي په میز او چوکیو اکمال کړي.د پوهنې وزارت سرپرست میرویس بلخي په داسې حال کې، چې په پوهنه کې موجودې




ستونزې او مشکلات یې ومنل ټینګار وکړ، چې وزارت هڅه کوي ددې ستونزو د حل لپاره اغېزناک ګامونه پورته کړي، له همدې امله هغه وویل، چې تېر کلونه او سږ کال ګڼ کارونه شوي، چې د ستونزو یوه برخه یې له منځه وړې ده. ښاغلي بلخي وویل، چې وزارت یې سږکال تر بل هر وخت ډېر کوښښ کوي، چې د پوهنې ستونزې حل کړي، خو په وینا یې اوسنیو مشکلاتو ته په کتو یو کال نه بلکې یوه لسیزه باید د معارف د ملاتړ په نامه ونومول شي.د پوهنې سرپرست په ټینګار سره وویل، چې د خلکو مرستې او ملاتړ حیاتي دی او ددې مرستو د جلب، مصرف او موثریت په اړه به هیچاته هم اجازه ورنکړي، چې ناوړه استفاده وکړي او چارې ټکنۍ پرمخ بوځي.

ده وویل، چې په پوهنه کې پراخ اصلاحات پیل شوي، چې ددې اصلاحاتو په پایله کې به د ستونزو ډېره برخه اواره شي. زده کوونکو ته د خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې

هغه ټینګار وکړ، چې د ودانیو د جوړولو او د ښوونکو د استخدام ترڅنګ به سږ کال ۵۰ میلیونه جلده کتابونه هم چاپ شي او په دې ډول به د کتابونو د کمښت ستونزه اواره شي.

د پوهنې سرپرست وویل، چې پوهنه هغه مهال وده او پرمختګ کولای شي، چې ټول چارواکي، عام ولس، خصوصي سکتور او بېلابېلې برخې لاس سره یو کړي او داسې ابتکارونه، چې د کابل ولایت وکړل، تنظیم کړي.

د هیواد لومړۍ مېرمنې رولا بي بي ګل غني هم په خپل استول شوي پیغام کې وویل، چې پوهنه د هر هیواد د پرمختګ کیلي ده او که پاملرنه ورته ونه شي ستونزې نه شي اوارېدلای.

د هغې په وینا د پوهنې له پلانونو باید ملاتړ وشي او په مختلفو برخو کې د تعلیمي خدماتو ودې ته باید جدي پاملرنه وشي. په کنفرانس کې د استادانو، زده کوونکو او محلي چارواکو په استازولۍ هم څو تنو خبرې وکړې او خپل وړاندیزونه او نیوکې یې مطرح کړلې.

## د زرغونې انا اول نمبر لیسې څخه ...

د لومړي مخ پاتې

د کندهار ولایت د زرغونې انا اول نمبر عالي لیسې څخه شاوخوا ۱۰۰ تنه نجونې له دولسم ټولګي فارغې او د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې بری لیکونه پرې وویشل شول.

د یادو زده کوونکو د فراغت په اړه جوړو شویو مراسمو کې د کندهار والي ښاغلي زلمي ویسا، د پوهنې ریيس عبدالقادر پیوستون، ملي سوداګرو، مدني فعالانو، ښوونکو، د زده کوونکو والدینو او نورو



سلګونو زده کوونکو ګډون کړی وو.

د غونډې په پیل کې د یادې لیسې آمرې آغلې لطیفې شیخل ددې لیسې د تېر ښوونیز کال د بهیر او په دې برخه کې د شویو پرمختګونو په اړه خبرې وکړې، زیاته یې کړه:« سږ کال مو نه یوازې یادې سل تنه نجونې له دولسم ټولګي فارغې کړي؛ بلکې د عصري زده کړو د ترلاسه کولو او د زده کړو د کیفیت د ښه والي په برخه کې مو جدي هلې ځلې کړي او د خوښۍ ځای دی، چې ښې لاسته راوړنې هم لرو.»

د کندهار د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون فارغو شویو ټولو زده کوونکو او د دوی کورنیو ته مبارکي وویله او د یادې لیسې فعالیتونه یې وستایل. نوموړي د ښوونځي مسوولینو ته د ستونزو د حل په برخه کې ډاډ ورکړ او ژمنه یې وکړه، چې د ښوونځیو هر ډول ستونزو ته به پر وخت رسېدنه کوي.

د کندهار والي ښاغلي زلمي ویسا هم د خپلو خبرو په ترڅ کې فارغو نجونو ته مبارکي وویله او د دوی له کورنیو یې مننه وکړه، چې خپلو اولادونو په ځانګړي ډول نجونو ته یې د زده کړو اسانتیاوې برابرې کړې دي.

د غونډې په پای کې پر فارغو شویو زده کوونکو اطلاعنامې او ستاینلیکونه هم ووېشل شول.

## ملاقات سرپرست وزارت معارف با رئیس...

بقیه صفحه اول

جلالتمآب دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با آقای کرستوفرنیامندی رئیس مؤسسه NRC در دفتر کارشان دیدار و ملاقات نمودند. طی این دیدار محترم دکتر محمد میرویس بلخی از کمک های مؤسسه NRC برای معارف تشکری نموده و اهتمام بیشتر مؤسسه مذکور را به خصوص برای کمک به اطفال بیجا شدگان داخلی معطوف داشتند. متعاقباً آقای کرستوفرنیامندی با قدردانی از



زحمات محترم دکتر محمد میرویس بلخی در راستای بهبود وضعیت معارف افغانستان، فعالیت های این وزارت را ستوده اضافه نمود: مؤسسه NRC کماکان کوشیده تا در راستای عرضه خدمات تعلیمی و تربیتی برای اطفال خانواده های عودت کننده در سراسر کشور، مبادرت ورزیده و با ایجاد صنوف آموزش های تسریعی زمینه بهتر آموزش را برای آنها فراهم سازد. نماینده مؤسسه مذکور یادآور شدند: این مؤسسه از سال ۲۰۰۳ میلادی در افغانستان به فعالیت آغاز نموده و ۱۴۰۰ اعضا دارد و از آنجمله ۷۰۰ آنها را معلمان تشکیل میدهند که مصروف تدریس برای اطفال فامیل های عودت کننده و بیجا شدگان داخلی می باشند گفتنی است که: این مؤسسه در راستای عرضه خدمات تعلیمی در ۱۳ ولایت برای اطفال خانواده های عودت کننده و بیجا شدگان داخلی فعالیت داشته که عنقریب ولایات ارزگان- فاریاب و بادغیس را نیز تحت پوشش قرار خواهند داد.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالي رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت